زما او د دنيا سره څه دي، په دنيا کې زما بېلګه د هغه سپور لاروي په څېر ده چې د يوې ونې د سيوري لاندې دمه شي، بيا يې پرېږدي او ترې لاړ شي

د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په پُزي ويده شو، نو کله چې راپاڅېده په ډډو کې يې د پُزې نښې پاتې شوې وې، نو مور وويل چې اې د الله رسوله، که يو نرم توشک مو درته چمتو کړی وی، هغه وفرمايل: «زما او د دنيا سره څه دي، په دنيا کې زما بېلګه د هغه سپور لاروي په څېر ده چې د يوې ونې د سيوري لاندې دمه شي، بيا يې پرېږدي او ترې لاړ شي».

[صحيح دی] [الترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی]

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه يادونه کوي چې نبي صلى الله عليه وسلم په يو پُزي ويده شو، نو راپاڅېده حال دا چې پُزي يې د ډډو په پوستکي کې چاپونه پرېښي و، نو مور وويل: ای د الله رسوله! که يو فرش (توشک) مو درته چمتو کړی و نو لدې به ښه وه چې پر دې زيږ پُزي ويده شي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه د دې دنيا سره هېڅ مينه او محبت نه لرم چې زه پکې ليوالتيا ولرم، زما حالت او په دې دنيا کې پاتې کېدل د هغه سپور سړي په څېر دي چې د ونې د سيوري لاندې دمه شي، بيا يې پرېږدي او ترې ځي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65814